DAILY اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

۶۶۱

لسم کال - دویمه دوره، ٦٦١ مه گڼه، پر له پسې گڼې ۱۷۲۷ د ۱۳۸۸ لـ د لیندۍ ۲۹ مه - د یکشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د محرم الحرام ۳ مه د ۲۰۰۹ د دسمبر ۲۰ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

د تېلو او گاز بیې راتیټې شوې دي

د افغانستان د سوداګرۍ وزارت وایي چې ددوی په غوښتنه د تېلو او اوبلن ګاز سوداګرو د دغو توکو بیې ټیټې کړې دي.

نومورې وویل چې په حکومتي پلورځیو کې به بیا یوکیلواوبلن ګاز په ۳۵ افغانۍ پلورل کېږي او حکومتي پمپونو کې د یوه لیتر پټرولو او ډیزلو بیه یوازې ۳۲ افغانۍ ده.

چارواکي وایي چې د حکومتي پلورځیو او پمپونو شمېره یې هم ډېره کړې ده.

د افغانستان د سوداګرۍ وزارت وایي، چې د افغانستان ولسي جرګې او مشرانو جرګې تر د تېلو او اوبلن ګاز د بیو د ښکته کولو په موخه د ګام

۲مخ

کابینهٔ نه چندان تازهٔ افغانستان معرفی شد



اینک بعد از روزها انتظار و وعده های تکراری مبنی بر معرفی کابینهٔ جدید از سوی آقای کرزی به ولسی جرگه، دیروز ۱۰ قبل از ظهر، لست کابینهٔ جدید آقای کرزی به ولسی جرگه به صورت رسمی معرفی شد. در لست کابینهٔ جدید اسامی ۲۳ تن از وزیرانی به چشم می خورد که اکثریت شان در دوره های گذشتهٔ آقای کرزی سابقهٔ کاری دارند.

این وزیران را قسیم فهیم، معاون رییس جمهور افغانستان به مجلس معرفی کرد که در سخنان خود گفت، دلیل این که آن عده از وزیران پیشینی که مقام های خود باقی مانده اند این است که آنها "با ابتکار و تخصص" کار کرده اند، اما او توضیحات بیشتری در این مورد ارایه نکرد.

بر اساس این فهرست، عبدالرحیم وردک، وزیر دفاع، حنیف اتمر، وزیر داخله، عمر زاخیل وال، وزیر مالیه، اسماعیل خان، وزیر انرژی، سرور دانش، وزیر عدلیه هستند که در مقام های سابق خود ابقا شده اند.

آصف رحیمی، وزیر زراعت، امیرزی سنگین وزیر مخابرات، حسن بانو غضنفر، وزیر امور زنان، جنرال خداداد، وزیر مبارزه با مواد مخدر و فاروق وردک، وزیر معارف از دیگر وزیران پیشنهادی هستند که در مقام های پیشین خود باقی مانده اند.

به گزارش بی بی سی، انوارالحق احدی، وزیر پیشنهادی اقتصاد در کابینهٔ گذشته وزیر مالیه بود که از مقام خود استعفا کرده بود و سید مخدوم رهین، وزیر پیشنهادی اطلاعات و فرهنگ، در کابینهٔ ادارهٔ موقت و دولت انتقالی هم در همین مقام کار کرده بود.

عنایت الله نظری، وزیر پیشنهادی عودت مهاجران هم در ادارهٔ موقت کرزی در همین مقام بود و وحیدالله شهرانی، وزیر پیشنهادی معادن در کابینهٔ گذشته کرزی وزیر تجارت بود.

براساس فهرست پیشنهادی، تنها هشت تن از چهره های جدید شامل این فهرست شده اند ص۳

دو سرباز ناتو کشته شد

نیروهای بین المللی حفظ صلح (آیساف) به فرماندهی ناتو، از کشته شدن دو سربازش در جنوب کشور خبر دادند.

این خبر طی اعلامیه یی که از سوی دفتر مطبوعاتی نیروهای یاد شده دیروز به رسانه ها ارسال گردیده بود؛ بیان شده است.

در اعلامیه علاوه گردیده است که یکی از این دو سرباز روز گذشته، طی یک انفجار ماین در جنوب افغانستان کشته شده است.

به گزارش خبرگزاری پژواک، در اعلامیه آمده است که سرباز کشته شده امریکایی است. از سوی دیگر، وزارت دفاع بریتانیا اعلان کرده است که یک سرباز شان دیروز در ولسوالی نادعلی هلمند کشته شده است. در یک اعلامیه منتشره این وزارت آمده است که این سرباز در یک انفجار، شدیداً جراحت برداشته و بعداً جان داد.

طالبان مسلح ادعا نموده اند که طی یک انفجار در ولسوالی سنگین هلمند، ۷ سرباز داخلی و خارجی را کشته اند.

سال ۲۰۰۹ میلادی یک سال خونین برای نیروهای خارجی در افغانستان بوده است، در این سال، حدود ۵۰۰ سرباز خارجی کشته شده اند، درحالی که در سال گذشته، ۲۸۶ سرباز خارجی کشته شده بودند.

در جملهٔ سربازان کشته شده خارجی طی سال جاری میلادی، ۳۰۵ تن امریکایی و ۱۰۰ بریتانیایی شامل می باشند و متباقی مربوط کشورهای دیگر عضو ایتلاف بوده اند.

په افغانستان کې تر ټولو زیاتې مینډې د لنګون پر مهال مري

د نړیوالې روغتیایي ادارې په خبره دا مهال په نړیواله کچه تر بل هر هېواد په افغانستان زیاتې امبولانسونکې د لنګون پر مهال مري او تر بل هر هېواد زیات ماشومان د لوړې له امله په دغه هېواد کې زیات مري. په جونیوا کې د نړیوالې روغتیایي ادارې (ډبلیو ایچ او) د افغانستان د څانګې مشر پیټر ګریف یوې غونډې ته د خبرو پر مهال وویل، چې په افغانستان کې په هر ساعت کې دوې مینډې د لنګون پرمهال د روغتیایي امکاناتو د نه شتون له امله مړې ګریف زیاته کړه: په دغه هېواد کې د سختې لوړې له امله په هر ساعت کې یو شمېر ماشومان تر پنځه کلنۍ وړاندې مري. ده په ساعت کې د له منځه تلونکو ماشومانو کره شمېره څرګنده نه کړه. ګریف د مېندو او ماشومان له منځه تلل د افغانستان په لرې پرتو سیمو کې نا امنې وښوده، چې وسلوال او زورواکي هغو سیمو ته روغتیایي کارووونکي نه پرېږدي. د خبریال وبیپانې د رپوټ له مخې، ګیرف ادعا وکړه چې په افغانستان دا مهال د خنډیږد والګي ناروغي هم مخ په زیاتېدو ده، چې زیات ناروغان یې په مزار شریف، کابل او هرات کې دي. د ده په خبره تر اوسه پورې په دغه هېواد پر یاده شوې ناروغي د اخته شوو کسانو شمېره نهه سوه دوه ویشت ریجسټر شوې ده.

ولسي جرګه نوي وزارتونه نه مني

ولسي جرګې ته د ولسمشر حامد کرزي د نوې کابینې د وړاندې کولو په درشل کې، وکیلانو د نویو وزارتونو له جوړېدو سره مخالفت وښود.

د حکومت لخوا له دې اعلان سره، چې پرون د لیندۍ پر ۲۸مه، ولسي جرګې ته نوې کابینه معرفي کوي، نورو ورځو په پرتله د وکیلانو شمېر زیات وو، چې د یو شمېر نورو وکیلانو لخوا یې هرکلی وشو.

د کابینې له معرفي کېدو مخکې یو شمېر وکیلانو د اعتراض په توګه وویل، چې د حامد کرزي لخوا دوه نوي وزارتونه معرفي شوي، چې دا کار د اساسي قانون د (۹۰) مې مادې خلاف دی.

د اساسي قانون په نوییمه ماده کې راغلي دي: «د اداري واحدونو رامنځته کول، په هغو کې تعدیل او یا لغوه کول د ولسي جرګې له صلاحیتونو څخه دی.»

د پژواک د رپوټ له مخې، په ولسي جرګه کې د کابل استازي رمضان بشر دوست وویل، چې ولسمشر حامد کرزي د خپلې خوښې د یوه نوي وزارت په جوړولو سره د اساسي قانون نقض کړی دی، چې اساسي قانون ګڼي.

بشر دوست په وینا، کرزي د دې مادې څخه هم سرغړونه

۳مخ

په هلمندکې د پاکو اوبو لپاره ۱۲۰۰ ژورې ځاګانې کیندل شوي

د هلمند ولایت د ډېرو سیمو اوسېدونکي وایي، د تېر کال له بیارغونې څخه تر یوه بریده راضي دي، خو څومره چې د خلګو غوښتنه ده، هومره نه تغییرات نه دي راغلي.

د ناد علي، ناوې او ګرمسېر ولسوالیو اوسېدونکي وایي، له ډېرې مودې جګړې نه ستړي شوي دي، اوس چې نسبتي ارامي راغلې ده، له دولت نه غوښتنه کوو، چې پر بیارغونه زور راوړي او د دولت هغه پیسې، چې د بیارغونې او پرمختیا برخې ته ورکول شوې دي ولګول شي.

دوی شکایت کوي، چې تر اوسه یې په کلیو کې جنګونه وو، بیارغونه یې په ستړګو هم نه ده لیدلې.

زمونږ د څېړنو اوبو ستونزه په سلوکې څلوېښت حل شوې ده، خو بیاهم دا کوچنۍ پروژې دي، کار باید پر سړکونو، زابرونو او لویو ۳مخ

یو شمېر هېوادوال وایي:

په کابینه کې له معاملو کار اخیستل شوی

نوې کابینه کاري وړتیا نه لري او د خدمت تمه تر نشي کېدای

یو شمېر هېوادوال وایي چې د ولسمشر لخوا ولسي جرګې ته معرفي شوي وزیران د معاملې له مخې راغلي او دوی د ولس هېڅ درد نشي دوا کولای.

د ولسمشر حامد کرزي لخوا د لیندۍ پر ۲۸مه، ۲۳ وزیران ولسي جرګې ته وړاندې شول. چې تاکل شوې ده د ولسي جرګې لخوا دوی ته د باور رایو ورکولو لړۍ ننه ته پیل شي.

په دغو ۲۳ وزیرانو کې یې دوولس اوسني وزیران او ۱۱ یې څه نوې او ځینې نور یې پخوانۍ څېړې دي.

د کندهار ولایت د ښار یو اوسېدونکی ۲۹ کلن نثار احمد آریا وایي، چې د ولسمشر کرزي له لورې په نوې تاکل شوې کابینه کې ګڼ وزیران مسلکي وړتیا او تقوا نه لري، ځکه نو په راتلونکې کې تر د ښه خدمت او په کارونو کې د نوښت تمه نشي کېدای.

هغه وویل، چې وزارتونو په دې وروستیو کې د ببلابېلو ډلو او یو شمېر بهرنیو هېوادونو د نماینده ګیو بڼه غوره کړې ده او تر ډېره د وزیرانو په تاکلو کې د هغوی سلیقو او غوښتنو ته پاملرنه کېږي.

نوموړی، نوې تاکل شوې کابینه د خلکو د ستونزو په حلولو کې ځکه بریالۍ ۳مخ



پښتون / افغان

۲مخ

د لوی او بښونکي خدای ﷻ په نامه

سرمقاله

ولسي جرګه د خپل اعتبار ګټلو پر کنډو!

تر ډیره خدای دې کومه پیښه چپه لري، ګمان دادی چې سبا تـه د ولسمشر د نوې دورې کابینـه ولسي جرګې ته د رایې اخستنې لپاره وروړاندې شي، کـه څه هم اوازه داسې ده چې په نوې کابینـه کې تر ١٣ زیاتې نوې ځیرې دي، خو که واقعیت ته ځیر شو، دغه هغه ځیرې دي چې ولسمشر کرزی یې له یوه وزارته ګوښه کوي په بل یې ورننباسي، په دې کابینـه کې د یـو شمېر داسې کسانو نومونـه هم ښکاري، چې د ولسمشر له خوا په تېرو وړاندیز شویو کابینو کې په اکثریت مطلق سره د ولسي جرګې له لورې مطلق سره رد شوي وو، خو خبره دا ده، چې اوس بیا هم د کوم دلیل له مخې دغه ځېرې وړاندیز شوي، د سوال خبره داده چې آیا ولسمشر ته ولسي جرګه د ولسي جرګې حیثیت نه لري که څنګه؟ او که د ولسي جرګې د غړو ډنونه دومره کمزورې دي چې د هغوی تیر یادونه یې له یاده وتلي وي؟ که دلته بیا هم ولسي جرګه تیرو ازمویل شویو ته مثبته رایه ورکړي، معلومه خبره ده، چې د ولس په سرنوشت معامله شوې ده. دغه شان، دا منو چې دیارلس نوي وزیران دي، اما دا ټول یو ځل دغه ملت ازمویلي خو هسې له یوې څوکې رالیږې او په بله کینول شول، که دوی په هغه وزارتونو کې بریالي وو، نو ولې ترې لرې شول او په نورو ورنصب شول، او که نه وو، نو په دې نویو وزارتونو کې به څه توري وځلوي؟

ولس نور وس نه لري، له ولسي جرګې هیله لري چې ددوی له غوښتنو سره سم، خادمان په دغه لیست کې رانغوړ کړي. جالبه یې دا چې د لوېې څارنوالۍ معاون ورځې وړاندې یو لیست ولسي جرګې ته وسپارله چې لوړپوړي مقامات په فساد پکې تورن و، له دغه لیست سپارلو سره ده هم له لویې څارنوالۍ خپله بسترہ رابـه شا کړه، خو نوې معرفي کېدونکې کابینـه تر ډیره هماغـه کسان دي چې د لویې څارنوالۍ د معاون صیب پـه لیست کې یې هم حضور درلود! دیتـه وایي، جامع الکمالات وزیران چې هم دغـه او هم هاغـه، دواړې غاړې خوري. داسې وزیران هم شته چې دغـه ولسي جرګې راشړلي دي او اوس بیا هم امید لري چې ولسي جرګه وربانده سترګې پټې کړي. خو، ولس د واقعیتونو تنده لري او په دې اړه یې یوازینی د هیلو سرچینه تاسو استازي یاست!

نو پام چې د ولس قضاوت د خپلو اوږو بار نه کړئ! که داسې وائ، نو بیا دا تیرو ټاکنو ته څه ضرورت و چې دومره بې شانه مصارف مو وکړل او نه مو ولسمشر بدل شو او نه وزیران، او که دوی داسې باکفایتـه او ولس ترې خوښ وئ نو نن بـه افغانستان د نړیوالو او داخلي کړیو تر دومره توند انتقاد لاندې نـه و، داسې نه شي چې تیر پـه تیره، هیر په هیره، او څو میاشتې ورورسته د معاملو بازار دومره ګرم شي چې یا پارلماني ټاکنې لغو شي یا د معالو په پایله کې بیا هم همدغـه پارلمان تمدید، همدغه وزیران او همدغه رییس جمهور وي؟

پښتون / افغان

داکتر طلا محمد خادم



ای ربني ادمو! ماتاسي لـه یـوه نارینـه حې بابا ادم دی او یوې ښځینه چې بې بې حوا ده، پیدا کړي یئ او بیا مې په تاسې کې قبیلې او خپلونـه جـوړ کـړي، لپـاره د پېژندګلویو او د تعارف. نو د خدای په نزد اکرم، معزز او مشرف هغه څوک دی، چې متقي او پرهېزګار وي، یوه قبیله پر بلې او یو خپل پر بل هېڅ برتري او لوړوالی نه لري، مطلب دادی چې تاسې ولې یـوه قبیله پر بلې او یو خپل پر بل خپل خان لوی ګڼئ؟

لایو سړی بل سړي ته سپک نظر کوي، د یو وطـن سـړی د بـل وطـن سـړي تـه ولې سپک ګوري؟

١٨٥٧ کې فرنګیـاتو سره د هندوستان د ازادۍ په جنګ کې هندوانو مسلمانانو ته دوکـه ورکـړه، خپلـه وروسـته شـو او مسلمانان یې په فرنګیانو دل دل کړل. په دې وخت کې سر اروابـاد میراحمد خان د مسلمانانو نماینده ګي وکړه او فرنګیانو باندې واضح کړه، چې دا ټول شرارت د هنـدوانو و. پـه دې چـل یـې پـه زرګونـو مسلمانان لـه جېلونو نـه را خلاص کړل او نور یې هم وژغورل. لـه دې نـه پس یې د مسلمانانو لپاره علي ګړه کالج او مسلم لیګ جماعت جوړ کړل.

بل طرف ته د دیوبند علماوو د دیوبند په بـوه مدرسـه کـې چـې وروسـته یـې د دارالعلوم شکل اختیار کړ، مسلمانانو د فرنګي خلاف جدو جهد پیل کړ.

عبـدالجبارخان (داکتـر خـان صـاحب) د عبدالغفارخان (پاچاخان) هم د فرنګي په پـوخ کې د شامېلېدو پـه لـړ کـې د طبـي معاینـاتو پـه دوران کـې د فرنګیـانو داکټراتـو بـدې رویـې خـان غـلام او ذلیـل احساس کړ او له نوکرۍ نه یې صرف نظر وکړ. پـر ١٩١٠ کال مولوي عبدالعزیز او اروابـاد پاچاخـان پـه اتمانزو کـې یـوه مدرسـه پرانیستله پـر ١٩١١ کال حاجي صـاحب ترنګـزي پـه ترنګـزو کـې یـو دارالعلوم پرانیـست، چـې مولـوي تـاج الدین یې مشر او مولوي فضل الربي او مولانا مخفي صـاحب یـې معاونـان وو. محمد اکبر خادم چې مالیې وزارت کې ملازم و، پـه تېـز بـازي لوبـه کـې یـوه فرنګـي افسرته ماتې ورکړه، چې وروسته یې دغـه فرنګي افسر سخت مخالف شو، نو محمد اکبرخادم سر لـه دوه وروڼـو د فرنګـي د نـوکرو څخـه استعفاوې وکړې او د فرنګي خلاف یې جدو جهـد پیـل کـړ. بلاخره عبدالغفار خان او محمد اکبر دواړه ملګري شول، محمـد اکبـر پـر عبدالغفارخان د پاچا خان لقـب کېـښود. او عبدالغفار خان پر محمد اکبرخـان د خـادم لقـب کېښود. د ژوند خلـک مشر ورور تـه پاچـا الا وایـي، دا پاچـا نـه بلکې پاچا دی. پر ١٩١٤م لومړۍ لویـه جګړه کې انګرېزانو د پښتنو پـر ځپلـو لاس پورې کړه. ترنګزو حاجي صاحب د جهاد کولـو پـه غـرض بونیر تـه لاړ، خـو هلتـه د فرنګي په دسیسه پوه شو او ښه تـه مهمندو ته راغی او له هغه ځای څخه یې د فرنګي خلاف جهـاد پیـل کـړ. فرنګیـانو د دوی ټولې لارې وترلې او ډېر کسان یې ونیول. د دیوبند مولانا محمد الحسن د حج په نیت مکې ته تللی و، هلته بندي او فرنګیانو ته وسپارل شو. عبدالله سندهي افغانستان ته راغی پر ١٩١٩م کال چې غـازي امـان الله خان د افغانستان استقلال تراسـه کـړ، نـو پښتونخوا او هند تـه بـه سراج الاخبار او داسې نورې چاپې خپرونې راتللې، به دغه ورځـو کـې د پاچاخان او د هغـه د ملګرو امانې نهضت سره تعلق په ټوله نړۍ کې د مظلوم غلام قامونو مورال تـه او بـه ځیر ورکړ او هم پر دغـه کال پاچاخـان، خـادم محمد اکبر، میاه احمدشاه میاه عبدالله شاه، عبدالاکبرخان اوحاجي عبدالغفار او مولوي محمد اسرابیل د یو ځای په قرآن قسم پورته کړ، چې تر وروسنیو سلګو به د فرنګي خـلاف جـدو جهـد کـوي. دوی پـه عاجله توګه د محمدزو به نماینـده ګي صوابي چې د یوسفزي قام مرکز وو لاړل او د مرغز په مسجد کې د یوسفزو سره جرګه او د کړې مبارزې فیصله او قسم پورته کړ. د ١٩٢١ کال د اپریل پر لومړۍ نېټه دوی پـه اتمانزو چارسده کې د انجمن اصلاح الافاغنه په نامه د یوه انجمن او هم په دغـه ورځ یې د یو ازاد اسلامي عالي بنـوونځي افتتاح وکړه، په دې بنـوونځي کې د قام د بچـو لپـاره لـه دنیـوي تعلیـم سره ديني تعلیم لازمي وګرځاوه او د هند زدکړه هم واجبي شوه.

تر دې انجمن لاندې د خدای خدمتګارو ممبرانو کلی په کلی جرګې جوړې کړې، چې دوی بـه د خلکـو نـه حسد، کینه، دښمني، تربګني، بد اخلاقي او غلط رسم او رواج او فـضول خرچـي لـرې کولـه او د هغو پرځای به یې په کې مینه، محبت او ورورولـي راټینګولـه. فرنګیـانو فـوراً د اروابـاد امـان الله خـان خـلاف پلمـې او دسیسـې پـه کـار واچـولې. چـې لـومړۍ دسیسه او پلمه یې د ١٩٢٠م له هند څخه افغانسـتان تـه د مـسلمانانو (پښتنو) هجرت وو او دویمه یې د اروابـاد امـان الله خان په زړه کې د اسلام د تمدن او تهذیب پرځای د اروپایي تهذیب او تمدن لـه لارې د وطن او ملت د پرمختګ شوق را پیدا کړ او داکار د ځینو منافقو او د لستونو د مـارانو، یعنـي د امـان الله خـان نـژدې دوستانو په واسطه فرنګیانو وکړ. امان الله خان د دې مقصد په غرض د اروپا د دورې اعلان وکړ، چې اروابـاد خادم محمد اکبر د یوه لیک په واسطه اروابـاد امـان الله خان د دې سفر او د ملک نـه لـه وتلو منع کړ، مګر اروابـاد امان الله خان د دې لیک پروا و نـه کړه لاړ او چې بهرتـه راغـی، نو ملک وهتـه سور اور ګرځول شوی و.

بلخوا پښتونخوا کې چې د مکتبونو شمېر اتیا (٨٠) تـه رسېدلی و او داسې د جګو شمېر هم اتیا (٨٠) تـه رسېدلی و، په یولـه صـوبه کـې اکثـر تـانې و ترلـې شـوې او عدالتونـه شـار شـول. پښتانه د مینـې، محبت او ورورولی په چوکاټ کې د یـوه مضبوط افغاني او اسلامي قوت په ځېر را ځرګند شول. فرنګي په لندن کې چغه کړه، چې پاچاخان او د هغـه ملګرو پـه اتمانزو کې توپه درولې ده، لندن پرې ولې. هغـه و چې هندوانو او فرنګیـانو ترګـې سـازش لاندې اروابـاد امان الله خان پسې اروابـاد پاچاخـان هـم د هنـدوانو او فرنګیـانو سازشـي بنـکار شـو، یعنـي د خـدایي خدمتګارو داجوړ شوی مضبوط قوت د هنـد کـانګرس جماعـت کـې مـدغم شـو. داسې په کومـه وعـد او وعـید چې پښتور کې د اروابـاد امـان الله خان واپسي وطن ته د راتلو په بابله اروابـاد نـادر خان سره شوې وي، تر پښتو لاندې شوې، کله چې اروابـاد نـادر خـان د کابـل پـر تخـت کـښېناست، د اروابـاد امـان الله خـان او اروابـاد پاچاخان سیاسي غلطیو ته یوازې افغان قوم ته نه جبیـره کېدونکی نقصان ورسـاوه، بلکې ټول عـالم اسـلام تـه یـې نقصان ورسـاوه. ځرنګـه چې فرنګیـانو د روس د وهلو په غـرض د ډرمنـدوولف پـه مشرۍ د پان اسلام ازم لـه ناکامۍ نـه پس پـه بنـد کې یـوه بلـه مـصالحه تیـارول پیـل کړل، چې هغـه د مسلمانانو لپـاره د روس سـرحدونو سـره نـژدې یـو اسـلامي ملـک پاکستان په نامه له هند څخه جدا کړي او دا کار فرنګیانو ډېر په اسانه ترسره کړ او بیایې د غه نوزاد پاکستان لـه افغانستان سره مخالف کړ، چې د دغـه مخالفت لـه برکته روسانو په افغانستان کې ګوتوهنې پیل کړې، وړو وړو روسانو پـه افغانستان کې د رانتـه وتلو سیاسي غلطۍ وکړې، چې غربیـان او امریکـا هـم د دې مرقـع پـه اړمـان وو. روسـان یـې پـه مـسلمانانو ښـه وټکول، چې بلاخره روس لـه افغانسـتان څخـه وتـو تـه مجبـور شـو، خـو داچـې لـه وراندې نه د امریکي او اروپا پالسیو په یو غشي دوه ښکاره کول وو، په پاکستان کې ګڼ جهـادي تنظیمونـه جوړ کـړي وو، چې هغوی به د جهاد په لړکې بهر او دننه یـو لـه بـل سره ډغرې وهلې او د مظلوم ملت او ملک تباهۍ کې یې څه کسر نه و پرېښې، خـو چـې کلـه د ډاکترنجیـب تـر سـقوط وروسته د دې غوبلیانو په تخت کوم غوبـل جوړ شو او غټې غټې وسلې یې د یـو بـل خلاف استعمال کړې، مظلوم ملت او ملک یې له خاورو سره خاورې کړ، چې نړۍ پـرې لعنتونـه وویـل. کلـه چـې طالبـان پـرې راغلل، دا ټول یې وځغلول په ملک کې یې مثالي امن قایم کړ، مګر سخت دریخه حکومت عملي خپلولو په سبب یې چار چاپېره سره د اروپـا او امریکـي او نـورو وېرول، هغـه وو چې د شـمالي ټلوالې په مرسته او کمـک د نړۍ لـه اکثـرو ملکونـو سره د اروپا او امریکي عسکري قوتونو په افغانسـتان کـې پـر طالبـانو سـخته حملـه وکړه او د دوی تخت یې نسکور کړ

۳مخ

د تېلو او ګاز بیې راتیټې شوې ...

اخـستنې غوښـتنه وکـړه، چـې وروسـته د سـوداګرۍ وزیـر وحیـدالله شـهراني د خـصوصي سکتور د جوړښت د تېلو او اوبلن ګاز له سوداګرو وغوښتل چې بیې ټیټې کړي.

د دغـه وزارت ویانـد جـواد عمـر وویـل، چـې سـوداګرو دا غوښـتنه ومنلـه او د یـادو شـوو سـون توکـو بیې یې ښکته کړي، چې د یو لېټر ډېزلو په بیه کې ٨ افغانۍ او د یـو لېټر پټرولو په بیـه کې ٣ افغـانۍ لړوالی راغلی دی.

پخوا یو لېټر ډېزل په ٥٢ افغانیو پلور کېدل، چې اوسنۍ بیـه یـې ٤٤ افغانۍ ده او پټرول له ٤٢ نه ٣٩ ته ښکته شوي دي.

د بـي بـي سـي د رپـوټ لـه مخـې، ښاغلي عمر وویـل چې د تېلو په هر مهال د پمپونو مخې تـه د ګاډو او د پلورځیـو مخـې تـه د خلکـو کتارونـه جـوړېږي، چـې پـه خـو ساعتونو کې هم یـاد شـوي توکـي نشي تر لاسه کولای.

خـو د سـوداګرۍ وزارت ویانـد وایي، چې په ښار کې یې د پمپونو او پلورځیو شمېره ډېره کړې او په وروسـتیو دوو ورځـو کـې دغـه کتارونه نه دي تر سترګو شوي.

چـــاروا کي وایـــي چـــې د اوس لپـاره دغـه بیـې یـوازې پـه پلازمېنـــه کابـــل کـــې ښکته شوي، خو له سوداګرو سره پـر خبـرو بوخـت دي، چـې پـه ولایتونو کې هم د دغو سون توکو بیې ښکته کړي.

هر کال د ژمې په رارسېدو سره د سون توکو لګښت ډېرېږي او بیې یـې پورتـه کېـږي، چـې ځینـې بهـوزلي خلـک وایـي د اخـستو وړتیا یې نه لري.

پښتون ...

او یوه داسې حکومتي اداره یې رامنځته کړه، چې اداري فساد یې تولـه نړۍ ولړزولـه، چې د هغې په سبب طالبانو کې ساه را پیدا شوه او ورځ په ورځ تقویه او د ناټو و غیره خلاف یې چریکي جنګونـه پیل کړل. د بهرنیـو، ناټو او داخلي ملي اردو اونورو ترغلطو پالیسیو لاندې د خلکو بندیانول، د کورونو تالاشي ، بې غرضـه پر عوامو زمیني عملیاتو او هوایي بمباریو، ورځ په ورځ د بهرنیو او داخلي حکومتي ادارو او د مشرانو په نامه او نورو یهانو له بهرنیو او داخلي ادارو سره مرستو، عوام د طالبانو په ارمان او پټ یا ښکاره مرستو باندې مجبور کړل

نن هرځوک له دولتي مشرانو، قومي مشرانو، بهرنیانو او نورو نه نفرت او کرکه کوي او د ملك او قام د بهتري طرفته له ګام اخیستو څخه د هر چا امیدشلېدلی او د هر چا په خوله د فارسي ژبې دا بیت دی:

یارب تو زمانه را دلیل بفرست - نمرودان راپشه چون فیل بفرست

فرعون صفتان سخت مغرور شده اند - موسی و عصا و رود نیل بفرست

لـه موجوده تبـاه کـاریو څخـه د ژغـورنې لپـاره اروابـاد پاچاخان د خپلې سیاسي غلطۍ جبران کولو لپاره د خدایي خدمتګار تحریك له سره د پیلولو جدوجهد پیل کړ او کله چې د عـلاج په غرض لندن ته تللی و، نو اروابـاد اعلیٰ حـضرت محمـد ظـاهر شـاه د سیاسـي کړکیچ په اړوند اروابـاد پاچاخان افغانستان ته راوبالـه، خو د اروابـاد داوود خان له کار څخه د لرې کولو او نورو خبرو په سبب تفاهم ته سره ونه رسېدل، بیا هم مور له اروابـاد پاچاخان سره د خدایي خدمتګار تحریك را ژوندي کړلو لپاره کلکه مـلاوتړلـه کلـه چې اروابـاد داوود خـان مجبـور شـو، د بادشاه تخت یې واړاوه او پرحکومت یې قبضه وکړه، خو اویه له ورځه تېرې وې د کمونستانو یـوې خونړۍ کودتاه کې له خاندان سره یې ډېر په بې دردۍ شهیدان کړل شو. اروابـاد پاچاخان په سرکې او نورو ډېرکوششونه وکړل، چې د سمون طرفته یې راولي، خو نقش بر آب - بلاخره یې روس ته د تلو اراده وکړه، چې له برژنف سره وګوري، مګر د کارمل کسانو له تاشقند څخه بېرته په وعـد او وعیدو راستون کړ، خو یـو لیك یې د برژنف په نامه ولیکه او بـل خوا یې له جلال اباد نه د اروابـاد ولي خان په نامـه ولیکل، چې زه به دلته له روسانو سره خبرې وکړم او تـه لـه امریکې سره خبرې وکړه، چې دواړه دې مور نه تباه کوي. د غـه لیك چې د چا په لاس ورکړ شو، هغه کابل ته د اروابـاد ولي خان یـو دوست تـه ورکړ او هغـه ببرك کارمـل تـه ورکړ او د هغه کاپي هغه سړي په ولي باغ کې اسفندیار تـه تسلیم کړه لـه دې نه وروسته د کارمل رویه له اروابـاد پاچاخان سره خرابه شوه، هغه وو چې پاچاخان مجبور واپس مایوسـه پېښور تـه لاړ او هلته یې خپل جدوجهد تـه دوام ورکړ.

مور د خدایي خدمتګاري له سره بیا اعلان او د وړې موبیل کړې په دې لړ کې مور مختلفو سیاسي ډلو سره صلاح او مشورې شروع کړې، په دې لړ کې د ١٩٨٦م ګـال د دسمبر پـر ٢٧ مـه د صـوابي مرغـز هغـه جماعـت کـې اروابـاد پاچاخـان دمهمـو فیـصلو او پربکړو اعـلان وکـړ، پـه کـوم جماعت کې یې چې له یوسفزي قوم سره جرګه کړې وه او لـه هغه ځایه یې د فرنګي خلاف جدو جهد پیل کړې و د غـه پربکړه مور لس زره کاپي چاپ کړې او په قام مو ووېشلې، له دې نه وروسته اروابـاد پاچاخان د ١٩٨٧م کال د مـارچ پر ٧ مه د اروابـاد ارباب سکندرخال خلیـل د هغـه د مړینې د کلیزې د لمانځنې په یوه لویـه غونډه کې د پښتون قام د راپېښـو بین الاقـوامي سازشـونو نه د خلاصون په غـرض د یـوې جرګې را غوښتو اعـلان وکـړ او د هغې د لګښتونو چارې یې هم پـر خپلـه غـاړه واخیسـتې. دا اعـلان ټولـو سیاسي او غیر سیاسي خلکو په ډېره ګرمجوشي استقبال کړ، مګر افسوس چې اروابـاد پاچاخان ډېر ژر بیمار شـو او په روغتون کې یې د جرګې او خدایي خدمتګاري تحریك ژوندي ساتلو کـار، ماتـه را په غـاړه کـړ. د ١٩٨٨م کـال د جنورۍ پر ٢٠ مه اروابـاد پاچاخان لـه دې فـاني جهـان څخـه سترګې پټې کړې. اناالله و انا الیه راجعون.

اروابـاد پاچاخان د خپلې سیاسي تېروتنې اظهـار په کابل سټېډیم پښتونستان د سنبلې د ٩ مې په جشن کې وکړ، چې مـور د هنـدوانو د ازادۍ لپـاره هـر قـسم قربـانۍ او خدمتونه وړاندې کړي، چې دوی ازاد شول، مګر دوی په خانګړې توګه ګاندهي جي، پټیـل او نهـرو لـه مـور سره بد ځه، چې غـداري وکـړه دا اظهـار د اروابـاد پاچاخان، زمـا ژوند او جدو جهد کتاب کې چاپ دی

د اروابـاد پاچاخان د وصیت مطابق مـور تر اوسـه د هغـه د کرنلارې جاري ساتلو کوښښ جاري ساتلی دی.

دا چې ورځ په ورځ د افغـان قـام اوسنی حالـت د تبـاهۍ او بربـادۍ په لـور په تېزۍ روان دی، په جدي توګه دې ډېره اړتیا ده، چې مور د خدایي خدمتګاری یو تحریك په لـر او برکې رامنځتـه کړ او هم مـو لـه دې لارې خپـل خـان، قـام او وطن له بین الاقوامي سازشونو څخه وژغورو. یقیناً هم دغـه یوازینۍ د نجات لارده. ومن الله توفیق

ډاکتر طلامحمد خادم

چارسده کندوز

اپریل ١٩٢١: خدایي خدمتګار:

د خدای د چا خدمت ته ضرورت نشته، د خدای د مخلوق خدمت د خدای خدمت یعنې خدایي خدمتګاري ده یـو ټولګی چې د قـام او وطن د خدمت لپاره لـه هوښیارو او ایماندارو څخه جوړ شي او هغوی د یـو مشر په مشرۍ په صلاح او مشوره کار کوي، یعنې د کوم نېك مقصد د ډېره کولو لپاره چې کوم قواعد او ضوابط طریقه کار جوړ کړي وي، د هغو پابند وي او بیا یې په خپلو کې کار هم تقسیم کړی وي، هر ممبر د دغه ټولګي په منزله د یو عنصر شي او ټولګی په منزله د یو وجود شي. اخلاص، همدردي او دیانت د دغه ټولګي روح شي. هر عنصر د دې وجود چې په خپل خپل ځای کار وکړي او دا روح چې ذکر شو، هم په کې وي، نو د غه وجود به ژوندی وي، لکه تر ١٩٣٠م کال پورې د اروابـاد پاچاخان خدایي خدمتګار تحریك.

حلف نامه

١) زه خدایي خدمتګار یم، خدای حاضر او ناظر ګڼم او پـه دې پـاك ذات بانـدې حلفیـه اقـرار کـوم، چـې د ټولو اصولو پابندیم

٢) زه بـه پـری، جنبی، دښمني، بغض، حسد، کینـه لـه چاسره نه ساتم او له بدو اخلاقـو او رسوماتو څخه بـه ځان ساتم

٣) زمـا ټـول کوښښونه بـه د خدای د رضـا لپـاره وي، نمایشي به نه وي

٤) په خلکو کې بـه دنیـاوي تعلیم، دیني تعلیم او هنري زدکړو لپاره کلکه ملاتړم

٥) زه به د بل جماعت غړیتوب نه قبلوم او د باطل غندنه او د حق مرسته به کوم

٦) زه به خپل مشر افسر هر جا یز حکم منم

٧) زه به خپل ځان، مال، ارام په ایمانداری سره د خلکو د جایز خدمت لپاره تیاروم

٨) زه به خپله ساده او پاك ژوند تېروم

٩) زه به کار کوم تیاري ته به نه کښېنم

١٠) زه به پر چاتېری نه کوم او که چا را باندې تېری وکړي، تروسه وسه به له ضمیر نه کار اخلم

پښتو مجله ګڼه ١٧ اپریل تر ١٤ اپریل ١٩٩٠ خان عبدالولي خان : د الله تعالی مور ته ارشاد دی. دالاره د اسلام چې ده، لاره برابره ده، تاسو په دې لار تلل کوئ؛ نو تاسې به منزل مقصود ته چې ارام دی، حکومت دی او په اخوت کې، چې دیدار دی او جنت دی ورسېږئ؛ تاسې د نور چا په لاړو باندې تلل، یعنې تقلید مه کوئ؛ تاسې به له دې سمې لارې نه بې لارې کړي، زه په دې باندې تاسې ته وصیت کوم، خالي چې تاسې پرې عمل وکړئ.

خان عبدالولي خان

په هلمندکې د پاکو اوبو لپاره ١٢٠٠ ژورې ...

پروژو ترسره شي

د خبریال وېښانې د رپوټ له مخې، د هلمند د کلیو د پراختیا او بیارغونې رییس محمد عمر قانع وایي، پـه نـادعلي، ګرمـسېر او نـاوې ولـسوالیو کـې یـې تر ١١٩٠ زیاتي ژورې څاګاني کیندلي دي او په دې اړه لانور کارونه هم په مخ کې لري.

قانع زیاتـه کړه لـنبکرګاه ښار تـه یې د ماشینونو په واسطه د اوبو د خړوبولـو سیستم جوړ کړی دی او په راتلونکو څو ورځو کې به یې فعالیت پیل شي

د هلمنـد پـه ګرمـسېر، نـاوې، نـادعلي، بـست، نهرسراج، موسی کـلا او سنګین کې زمـور کارونـه روان دي او په نـوي کـال کې بـه مـور خپـل کارونـه د هلمند ټولو ولـسوالیو، چې خانشین او نوزاد هم په کې شاملې دي وغځوو، چې ځینوو لسوالیو ته زمـور پلاوي تللي هم دي.

هغه زیاته کړه، تر دې دمه یې نږدې دوه لکه او پنځو س زره امریکایي ډالره په دې برخه کې لګولي دي، چـې د انګلـستان د پراختیـایي څـانګې لـه خـوا ورکول شوي دي.

ولسي جرګه نوي وزارتونه نه ...

د ولسي جرګې غړو د رایو په اکثریت سره، د نوو جوړو شـوو وزارتونـو وزیرانـو تـه د رایـو نـه ورکولـو او ددې وزارتونـو د قـانوني حیثیـت پـه اړه د بحـث کولو پرېکړه وکړه

کابینهٔ جدید افغانستان معرفی ...

اما آنها از افراد تاثیرگذار شمرده نمـی شـوند و در مقام های نه چندان کلیدی معرفی شده اند:

میرزا حسین عبداللهی، وزیـر فوایـد عامـه، غـلام محمد ییلاقی، وزیر تجـارت، حامـد گیلانـی، وزیـر سرحدات، اقوام و قبایل، اسماعیل منشی، وزیر کـار و امور اجتماعی، عنایت الله بلیغ، وزیر حج و اوقاف، محمدالله بتاش، وزیر حمـل و نقـل و ویـس احمـد برمک، وزیر انکشاف دهات و عبیدالله عبیـد، وزیـر تحصیلات عالی.

شماری از این افراد پیش از این هـم در مقـام هـای بالایی در حکومت های گذشتهٔ افغانستان کار کـرده اند. ییلاقی وزیر تجارت دولـت مجاهـدین در سـال های هفتاد هجری بود و در حال حاصر، مشاور ارشد وزیـر تجـارت اسـت و عبیـد رییـس پوهنتـون طبی کابل است.

برمک معاون کنونی وزیـر انکـشاف دهـات، حامـد گیلانی، پسر سید احمد گیلانـی و معـاون مـشرانو جرګه و بتاش از کارمندان دفتر ریاست جمهـوری هستند. عبداللهی کار در سازمان هـای غیردولتـی، وزارت معارف، شـاروالی و ادارهٔ اصـلاحات اداری در کارنامهٔ خود دارد.

شماری از این افراد هم در شمار چهره های مـشهور نیستند و از گذشتهٔ آنها معلومات زیادی در اختیـار رسانه ها قرار نگرفته است.

در فهرست پیشنهادی وزرای خارجه، شهرسـازی و همچنین رییس ادارهٔ امنیت ملـی و لـوی څارنـوالی معرفی نشده اند. گفته می شـود، سرنوشـت وزیـر خارجه پس از کنفرانس لندن، که اوایل سال آینـدهٔ میلادی برگزار خواهد شد، مشخص می شود.

بر اساس فهرسـت پیـشنهادی، وزارت کـار، امـور اجتماعی، شهدا و معلولان تبدیل به دو وزارت کـار امور و اجتماعی و شهدا و معلولان شده اسـت. ایـن موضوع با واکنش منفی مجلس رو به رو شد. وزارت شهدا و معلولان در گذشته های نه چندان دور هم از وزارت کار و امور اجتماعی جدا بود.

ولسی جرګه تصمیم گرفته، تا زمانی که این موضوع در نشست امروز مجلس حل نشده اسـت، در بـارهٔ تاییـد یـا رد وزیـران پیـشنهادی رای گیـری نخواهند کرد.

ولسی جرګه در اجلاس امـروز سـوابق تحـصیلی و کاری وزیران پیشنهادی را بررسی مـی کننـد و در نشست بعدی خود در بار تایید یا رد آنها رای گیری خواهد کرد. کابینهٔ افغانستان متـشکل از ٢٥ وزیـر است که در حال حاضر ٢٣ وزیر آن معرفی شده‌اند و فهرست آن قرار ذیل است:

١. وزیر دفاع: عبدالرحیم وردک

٢. وزیر داخله: حنیف اتمر

٣. وزیر انرژی و آب: اسماعیل خان

٤. وزیر مالیه: عمر زاخیلوال

٥. وزیر عدلیه : سرور دانش

٦. وزیر معارف: فاروق وردک

٧. وزیر تحصیلات عالی: عبیدالله عبید

٨. وزیر حج و اوقاف: عنایت الله بلیغ

٩. وزیر فواید عامه: میرزاحسین عبداللهی

١٠. وزیر اطلاعات و فرهنگ: سید محدوم رهین

١١. وزیر صحت: امین فاطمی

١٢. وزیر زراعت: محمد آصف رحیمی

١٣. وزیر اقتصاد: انوارالحق احدی

١٤. وزیر معادن: وحیدالله شهرانی

١٥. وزیـر مخـابرات و تکنـالوژی معلومـاتی : امیرزی سنګین

١٦. وزیر تجارت و صنایع: غلام محمد ییلاقی

١٧. وزیر احیا و انکشاف دهات: ویس احمد برمک

١٨. وزیر کار و امور اجتماعی: اسماعیل منشی

١٩. وزیر ترانسپورت و هوانوردی: محمد الله بتاش

٢٠. وزیر امور زنان: حسن بانو غـنـنفر

٢١. وزیر عودت مهاجران: عنایت الله نظری

٢٢. وزیر سرحدات، اقوام و قبایل: سید حامد گیلانی

٢٣. وزیر مبارزه با مواد مخدر: خداداد

به هر حال، ترکیب کابینهٔ جدید حامد کرزی نشان مـی دهـد، ایـا وی برای پایان دادن به فساد دولتی گسترده در کشور متعهد است یا خیر. باید منتظر ماند و دید که آیا کرزی می خواهـد، فـصل جدیـدی را در تاریخ کشورش رقم بزند. کرزی با گزینه هایی که انتخاب کرده اسـت، به ضوع نشان می دهد، که آقای کرزی مایل نیست، چهره های جدیدی در تیم کاری اش، آنهم در پست های کلیدی حضور داشته باشـد. امـا اینکه چرا آقای کرزی نخواست و نتوانست، اشخاص جدیـدی در ایـن پست ها معرفی نماید، شاید شدت فشارهای خارجی و داخلی و رابطـه های گوناگون دیگری که در عرصهٔ سیاست و قدرت افغانـستان ریـشه یی شده است، پاسخگوی این مسأله باشد.

په کابینه کې له معاملو کار اخیستل ...

نه بولي، چې په وینا یې ډېر وزیران یې پخواني دي او له یو څو وزیرانو پرته نورو د خپلې تېرې کاري دورې پر مهال خلکو ته کوم ځانګړي خدمتونه نه دي کړي. اریا د پخوانۍ او اوسنۍ کابینې ترمنځ کوم ځانګړی توپیر نه وینې او وایي، چې د کلیدي وزارتونو وزیران هماغه پخواني اشخاص دي، خو یوازې څو وزارتونو ته چې تر ډېره سمبولیکه ښه لري، نوي کسان معرفي شوي، چې ولس یې په اړه ډېر معلومات نه لري. نومورې وویل چې له نوې کابینې څخه به یې غوښتنه دا وي، چې که هغوی ٥٠ سلنه هم د خپل هېواد او خلکو لپاره خدمت وکړای شي، نو دا به یوه لویه لاسته راوړنه وي. د پژواك د رپوټ له مخې، د کندهار ښار یو بل اوسېدونکی ٤٥ کلن محمد شاه، چې په ښار کې شخصي کاروبار کوي، هم ډېر ته نظر لري. خو ه ایي چې په نوې کابینه کې یو شمېر پخواني وزیران لکه د سخا ډاټو، پوهنې، کورنیو چارو، مالیې او نور، هم مسلکي پوهه او هم تقوا لري. خو د یو شمېر نویو وزیرانو په ټاکنه کې داسې ښکاري، چې یو ځل بیا له مصلحتونو او معاملو څخه کار اخیستل شوی وي. د محمد شاه په خبره، په نوې ټاکل شوې کابینه کې یو شمېر پخوانیو وزیرانو، چې اوس بیا ټاکل شوي، دومره وړتیا یې نه لرله، چې آن خپله کلتۍ بودیجه یې هم ونه لګولی شوه، نو په نوې دوره کې به تېرې څنګه د خدمت تمه وشي. دی وایي، چې همدې حالت ته په پام سره، باوري نه دی چې نوې کابینه دې د خلکو ستونزې حل کړای شي، ځکه د افغانستان وګړي له هر لوري تر فشارونو او کړاوونو لاندې دي. دی له نوې کابینې څخه دا هیله لري، چې خپل وجدان مخاطب کړي. خا ای حاضر او ناظر وګڼي، د خپلو شخصي ګټو پر ځای د ولس ګټو ته لومړیتوب ورکړي او د دغـه روانو ناخوالو د لـه منځـه وړلو لپاره کار وکړي. د جلال اباد ښار د روښان مېنې اوسېدونکي او قومي مشر ملک فیض الله بیا وایي، چې د نوې کابینې او پخوانۍ ترمنځ هېڅ توپیر نشته. هغه پژواك ته وویل: «زمور هیله داوه چې مسلمان او په وطن مین خلک به راشي، خو کرزي صیب د باران نه ناوې ته کښېنولو.» د جلال اباد ښار د دویم ماموریت یوه اوسېدونکي دوکاندار حاجي بهادر خان وویل، چې د کرزي له نوې کابینې د هیڅ تمه نه کوي. نومورې وویل: «نوي وزیران خو نه پېژنم، خو پخوانیو سوداګرو وزیرانو سره سودا وشوه او پنځه کاله به پر دې ځپل شوي ولس نیلې وي.» په هرات ولایت کې د مدني ټولنې یوې غړې، عزیزې خیراندېش نوې کابینه بېکاره وبلله او زیاته یې کړه، چې له دوی د ښې هېڅ تمه نشي کېدای. نومورې پر ولسمشر کرزي دا نیوکه هم وکړه، چې په کابینه کې یې یواړې یوه مېرمنه د وزیرې په توګه وړاندیز کړې ده. د هغې په وینا، په تېرو پنځو کلونو کې ټولو ته معلومه شوه، چې وزیرانو سم کارونه نه دي کړي، خو بیا هم کرزي په نوې کابینه کې پخواني ١٢ وزیران پیشنهاد کړي دي. د هرات د رباط سنګي ولسږالی یو قومي مشر حاجي امان الله ملک زاده وایي، چې ازمویل شوي کسان باید له سره وته ازمایل شي. هغه زیاته کړه، چې ولسمشر کرزي له سیاسي ګوندونو سره معاملې کړې وې او د همدې معاملې له مخې یې، په کابینه کې بدلونونه راوستي دي. د ملک زاده په وینا، که چېرې د ولسي جرګې غړي په رښتیا هم ځان د خلکو استازي ګڼي، نو دغو پیشنهاد شوو وزیرانو ته دې له رایو ورکولو ډډه وکړي. د بامیان ولایت په مرکز کې د علي عصر په نامه د تېلو د یوه ټانک خاوند ٤٢ کلن محمد آصف وایي، چې نوې کابینه د ولس په ژوند کې هېڅ تغییر نشي راوستلی. د کابینې غړي د هغوی وړتیا ته په پام کې نیولو سره نه، بلکې د سیاسي معاملو له امله وړاندیز شوي دي. د بامیانو د ښار یوې اوسېدونکې سلیمې هم پر ولسمشر نیوکه وکړه، چې په ټوله کابینه کې یې یوازې یوې مېرمنې ته ځای ورکړی دی. د پکتیا ولایت یو اوسېدنکی حبیب الله وایي، چې د ولسمشر حامد کرزي په نوې کابینه کې ملي مشارکت په پام کې نه دی نیول شوی. حبیب الله وایي: «د یوې ملیّ شخړې پرمهال د پکتیا والو څخه د سر په توګه کار اخیستل کېږي، خو په سیاسي ډګر کې ورته کومه خاصه پاملرنه نه کېږي.» د خوست ولایت یو اوسېدونکی محمد نسیم وایي، چې کرزي په نوې کابینه کې کار اهل د کار ته نه دی سپارلی. خو نومورې بیا هم له نوې کابینې وغوښتل، چې د امنیت او بهرنیو ځواکونو د خپلسرو عملیاتو د مخنیوي لپاره دې هلې ځلې وکړي. د دغه ولایت یو بل اوسېدونکی مالي خان بیا وایي، چې نوې کابینه د دې وړتیا نه لري ، چې د خلکو ستونزې هوارې کړي. هغه وویل، چې په دې نوې کابینه کې د ملي اړتیا له مخې، ژبنې او قومي شیان په نظر کې نیول شوي دي.

بحران سیاسی در پاکستان



این شایعه آنقدر جدی شد که سخنگوی رسمی آصف علی زرداری، رییس جمهور پاکستان مجبور به واکنش رسمی شد و اعلام کرد که کودتایی در کشور صورت نگرفته و جلوگیری از خروج وزرای دولت براساس حکم قضایی است.

هیأت ملی حسابرسی پاکستان اعلام کرده است، تمامی افرادی که به خاطر صدور فرمان آشتی ملی، عفو عمومی شامل آنها شده بود، حق خروج از کشور را ندارند.

گفته می‌شود، این فهرست نام بیش از هزار تن را شامل می‌شود که رحمان ملک وزیر داخله، احمد مختار وزیر صدور حکم بازداشت برای رحمان ملک، وزیر داخلهٔ پاکستان و از نزدیکان آصف‌علی زرداری، رییس‌جمهور این کشور، نخستین اتفاق جدی را پس از لغو فرمان آشتی ملی رقم زد، تا پاکستان بار دیگر به یک بحران سیاسی نزدیک شود.

پس از آنکه ستره محکمهٔ پاکستان حکم آشتی ملی در پاکستان را غیرقانونی اعلام کرد و مصونیت قضایی مسوولان دولتی این کشور از بین رفت، مقام‌های قضایی پاکستان قرار بازداشت رحمان ملک، وزیر داخله را صادر کردند.

به گزارش الجزیره، قرار بازداشت وزیر داخله به‌عنوان یکی از افراد بسیار نزدیک به آصف علی زرداری توسط هیأت ملی حسابرسی و ۲ روز پس از لغو فرمان آشتی ملی صادر شده است.

این حکم نخستین اقدام جدی است که از سوی مقام‌های قضایی پاکستان علیه مقام‌های ارشد دولت این کشور صورت می‌گیرد و به احتمال زیاد، در روزهای آینده، دامنهٔ آن افزایش خواهد یافت.

گزارش‌ها نشان می‌دهد که دوسیه های متعددی علیه وزیر داخلهٔ پاکستان مطرح است که یکی از آنها به دوسیهٔ «تکسی‌های زرد» شهرت دارد. وی در این دوسیه که پیگیری آن از ۵ دسمبر ۲۰۰۷ با صدور فرمان آشتی ملی کنار گذاشته شد، متهم به اختلاس و اعطای قرضه های غیرقانونی به سازمان تکسیرانی پاکستان است.

پرویز مشرف، رییس‌جمهور سابق پاکستان در اکتوبر ۲۰۰۷ با صدور فرمانی موسوم به آشتی ملی رسیده گی به دوسیه های مالی و جنایی علیه بیش از ۸ هزار تن از اعضای احزاب مردم، مسلم لیگ شاخهٔ نواز، جنبش متحدهٔ قومی و برخی دیگر از مقام‌های ارشد دولتی در محاکم این کشور را متوقف کرد.

این فرمان درواقع، در چارچوب توافق‌های پشت پرده مشرف و امریکا صادر شد که براساس آن، بینظیر بوتو، رهبر فقید حزب مردم پاکستان، اجازهٔ بازگشت به کشور و فعالیت سیاسی را یافت.

وزیر داخلهٔ پاکستان اکنون ممنوع الخروج شده است و باید خود را تا ۲۴ ماه جاری برای رسیده گی به دوسیه اش به محکمه معرفی کند. این اقدام در حالی صورت گرفت که روز پنجشنبه هم از پرواز احمد مختار، وزیر دفاع پاکستان به چین جلوگیری شد.

احمد مختار قرار بود، برای یک بازدید رسمی به پیکنگ سفر کند که متوجه شد، نامش در فهرست افراد ممنوع الخروج از کشور قرار دارد. ممنوع الخروج شدن وزرای دفاع و داخلهٔ پاکستان، به حدی پیش‌بینی نشده بود، که ۲۷ قوس، شایعهٔ کودتا در پاکستان را به سرعت بر سر زبان‌ها انداخت.

دفاع، حسین حقانی سفیر پاکستان در امریکا و واجد شمس‌الحسن سفیر پاکستان در بریتانیا تنها تعدادی از آنها هستند. به گفتهٔ مقام‌های آگاه، ۲۸۰ مقام دولت زرداری اکنون تحت نظر قرار دارند.

با لغو فرمان آشتی ملی، اکنون آصف علی زرداری در وضعیت دشواری قرار دارد و احزاب مخالف او را برای استعفا تحت فشار قرار داده‌اند. روز گذشته، حزب مسلم لیگ، شاخهٔ نواز به‌عنوان حزب اصلی مخالف دولت خواستار کناره‌گیری رییس‌جمهور پاکستان شد.

هر چند احزاب مخالف تاکید می کنند که زرداری باید از لحاظ اخلاقی و به خاطر موقعیتی که در آن قرار دارد، از سمت خود استعفا دهد، اما طبق قانون اساسی پاکستان، رییس‌جمهور در زمان تصدی این سمت، از مصونیت قضایی برخوردار است.

با وجود این، مخالفان در تلاش هستند که ستره محکمهٔ پاکستان انتخاب او را به‌عنوان رییس‌جمهور این کشور غیرقانونی اعلام کند. بسیاری اعطای کنترول زرادخانهٔ هسته یی پاکستان از سوی زرداری به صدراعظم این کشور را در ماه گذشته به خاطر همین شرایط سخت می‌دانند.

اکنون مشخص نیست، آیندهٔ زرداری چه خواهد شد؛ اما واضح است که این مسایل در کنار عدم‌محبوبیت او در میان مردم، به‌شدت دولت وی را تضعیف کرده است.

سفیرکانادا مقیم کابل:

پارلمان افغانستان وزرای کابینه را بررسی و تایید نماید

سفارت کانادا با نشر اعلامیهٔ مطبوعاتی از اعلان لست کابینهٔ جدید استقبال نموده از اعضای ولسی جرگه افغانستان خواست، تا مطابق مسوولیت های قانونی شان، سابقهٔ وزرای جدید را بررسی و مورد تایید قرار دهند. در این بیانیه به نقل قول ویلیم کروزبی سفیر کانادا در افغانستان گفته شده است: ما اطلاع یافتیم که اکثریت اعضای کابینهٔ جدید حکومت افغانستان توسط مارشال محمد قسیم فهیم معاون اول ریاست جمهوری اعلان گردیده است. در بیانیه آمده است: ((کانادا خواستار آن بود، تا وزراء بر اساس شایستگی تعیین گردند)) سفیر کانادا گفته است: ما خرسند هستیم که لست وزرای پیشنهادی شامل افراد شایسته است که، با برخی شان ما قبلا نیز کارکرده ایم. سفیر کانادا در این بیانیهٔ می گوید: ما می دانیم که شایستگی این نامزدان از طرف پارلمان در نظرگرفته خواهد شد، و بعدا برای شان رای اعتماد داده خواهد شد. سفیرکانادا از پارلمان افغانستان می خواهد، تا با نشان دادن مسوولیت قانونی خود، سوابق کاری و لیاقت کابینهٔ جدید را بررسی نموده، بعدا تایید نمایند. نماینده دولت کانادا می گوید، انتظارداریم، این پروسه به وجه احسن تکمیل گردد. دربیانه نشرشدهٔ سفیر کانادا ابراز آماده گی شده است، تا با اعضای جدید حکومت کرزی کار نموده جهت بهبود امنیت و تقویهٔ نهادهای دموکراتیک کمک نمایند، تا پاسخگوی بهتر خواسته های ملی، بهبود خدمات اساسی و مبارزه با فساد اداری باشد. به گزارش خبرگزاری وخت، سفارت کانادا اولین نماینده گی سیاسی مقیم در کابل است که دربارهٔ لست جدید اعضای کابینه، نظریات حکومت خود را در این زمینه منتشر ساخته است.

اطفال افغانستان و معضلهٔ مواد مخدر

مسوولان مرکز تداوی معتادان «نجات» در کابل می گویند که شصت هزار طفل در سراسر کشور معتاد به مواد مخدر بوده و این ارقام روبه افزایش است.

داکتران این مرکز می گویند، افزایش معتادان بزرگسال، استفادهٔ خانم ها در هنگام بارداری از مواد مخدر و فعالیت بعضی از فروشنده گان مواد مخدر باعث می شود، تا اطفال نیز به مواد مخدر معتاد شوند.

داکتر طارق سلیمان مسوول مرکز تداوی معتادان نجات در کابل گفت، مطابق سروی یی که از سوی وزارت صحت و دفتر مبارزه با جرایم و مواد مخدر سازمان ملل متحد در سال ۲۰۰۵ انجام شده بود، شصت هزار اطفال در افغانستان، به مواد مخدر معتاد می باشند.

وی هشدار می دهد، اگر از قاچاق و فروش مواد مخدر جلوگیری نشود، این آمار افزایش می یابد.

به گزارش خبرگزاری روز، شماری از اطفال در شهر کابل در حالی که به خرید و فروش مواد مخدر مصروف هستند، خود نیز به مواد مخدر معتاد می باشند.

عطاالله یک پسر ۱۵ ساله که مواد مخدر را به شکل پرچون در شهر کابل به فروش می رساند می گوید که از دو سال به اینسو، به این کار مصروف بوده و مدت یک سال می شود، خودش نیز هیرویین استفاده می کند.

اعتیاد یک کودک باعث می شود، تا کودکان دیگر را نیز به آن آغشته کند.

احمد کبیر یک کودک دیگر می گوید، پسر کاکایش که کار خرید و فروش مواد مخدر را می کند وی را معتاد کرده است و حالا او تریاک و هیرویین استفاده می کند.

این پسر می گوید اگر تریاک و یا هیرویین پیدا نتواند، سگرت و یا نصوار استفاده می کند.

یک نوجوان دیگر که خود را بابر معرفی کرد گفت: "من مواد مخدر فروشی می کنم و خودم نیز تریاک می کشم."

وی افزود که پدرش مواد مخدر را برایش تهیه می کند و او بالای معتادان به فروش می رساند، اما پدرش از اعتیاد خود او آگاه نیست.

بیشتر این اطفال به دلیل بیکاری، فقر، بی سوادی و همنشینی با دوستان معتاد به استفاده از مواد مخدر عادت می کنند.

در حال حاضر، هزاران کودک افغان به کارهای شاقه مصروف اند و از آنان به انواع مختلف سوء استفاده می شود.

محمد نادر نادری سخنگوی کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان گفت، سروی یی که سال گذشته از سوی کمیسیون حقوق بشر در شهر کابل انجام شد نشان می دهد که شش هزار طفل در شهر کابل به کارهای شاقه مصروف هستند.

وی افزود، اعتیاد به مواد مخدر یک بحران اجتماعی بوده و این مکلفیت حکومت می باشد، تا به اساس کنوانسیون حقوق اطفال که افغانستان یکی از امضاء کننده گان آن است، به این موضوع توجه کند.

در همین حال، داکتر احمد فرید رایند سخنگوی وزارت صحت عامه می گوید، ارقام معتادان مواد مخدر نسبت به سروی یی که در سال ۲۰۰۵ از سوی وزارت صحت عامه و دفتر مبارزه با مواد مخدر و جرم سازمان ملل متحد راه اندازی شده بود، بیشتر شده است.

وی می گوید، در حال حاضر بیش از یک میلیون انسان در کشور به مواد مخدر معتاد بوده و یک سروی در حال جریان است که نتیجهٔ آن، در سال ۲۰۱۰ معلوم خواهد شد.

این در حالی است که چندی قبل معین وزارت امور داخله گفته بود که فروش مواد مخدر توسط اطفال، معلولان و معیوبان برای پولیس چالش ساز شده است.

اراده ورځپانه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپانه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۷۰۰ ۵۹ ۶۲ ۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : انجینیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنگ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com